مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۵/۰۸

# څوک به ړنګ شي،

## پاکستان، که افغانستان؟

ما نهغوښتل د یوې مېرمنې داسې سرسري او مسخره نظر ته غبرګون ولرم، ځکه باور لرم، چې ترشا یې د ځانګړیو استخباراتي کړیو تور سیوري له ورایه ښکاري.
خو چې په ټولیزو رسنیو کې مې د یوشمېر افغانانو اندېښنې ولیدې، نو اړ شوم څه ټکي یاد کړم.

په نړۍ کې ګڼو څېړنیزو مرکزونو د پاکستان پر ړنګېدا او له منځه تللو تحلیلونه خپاره کړي، ان چې په دې اړه بشپړ څېړنیز کتابونه وکښل شول. یو له داسې کتابونو:

Pakistan Disintegration ( Rise of nations: south Asia changing geoplitical landscape - 2035) By: Dr. Rahed Ravi

دی.

دا کتاب د پاکستان له منځه تلل نومېږي او «راهېد راوي» لیکلی.

پاکیستان له داسې تحلیلونو سره بېتفاوته چلند وکړ، هڅه یې وکړه ځان د ګرنګ له غاړې وژغوري.

عقلانې دا ده، چې داسې تحلیلونه او څېړنې باید ملتونه وارخطا نهکړي، بلکې راویښ یې کړي.

افغانستان مشروع او پیاوړې ملي حکومتونه نهلرې او نه یې په تېرو پنځوسو کلونو کې لرلي دي، لا تراوسه دا وطن خپل ملت ساتلی او ملي روح یې - که څه هم زخمي دی - خو لا پیاوړی دی.

له «ملي» مفهوم سره د تکفیري چلند او دوښمنۍ سره سره باید دا مفهوم مقدس وګڼو، ناموسي یې کړو او پرې راټول شو.

افغانستان لا تراوسه افغان هویت، «ملي» مفهوم او ملتپال روح ساتلی دی او تر دې روسته به یې هم ساتي.

موږ باید راویښ شو، روښانه شو او د استخباراتو په مټ راپیل شوې رواني جنګ مو ونهویروي.

د مېرمن ماریا سلطان څرګندونې د افغانستان په وړاندې د رواني جنګ یوه برخه ده.

که په سیمه کې پولې ړنګېږي او هېوادونه له منځه ځي یا نوي جوړیږي، نو تر افغانستان وړاندې به د سیمې نور هېوادونه خامخا ړنګېږي.

د خونړیو پولو Bloody Borders د تیورۍ له مخې که ټاکلې وي، چې په سیمه کې د بلوچستان، کوردستان، چیني ترکیستان، اسماعیلیه واتیکان او نورو ورو غټو هېوادونو د جوړېدو او نوې خطکشۍ طرحه د نوي ښکېلاک په چاره او یا د ملتونو په اراده عملي کیږي، په هغه صورت کې به د افغان هویت په محور د یوه لوی هېواد جوړېدل هم خامخا عملي کیږي، چې خپلو تاریخي پولو ته ورسیږي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

په دې کې شک نه‌شته، چې د داسې ارمان د عملي کېدو لپاره د يوې ملي، پياوړې عقلاني سياسي مشرۍ دردوونکې تشه شته. دا تشه هم ويروونکې ده او هم د انديښنې وړ.

اوسمهال زموږ يوه ستونزه دا ده، چې موږ له سيمه‌ييزو سياستونو سره عقيدوي او عاطفي چلند کوو، خو نوره نړۍ عقلاني، اقتصادي او امنيتي چلند ورسره کوي.

له دې ټولو انديښنو، تشو او نه‌شتو سره سره د هېوادونو په برخليک کې ملتونه او ملي ارادې خورا مهمې دي، چې له دې اړخه موږ لا ژوندي يو.

راځئ د مېړمن سلطان خبرې د ملي ويښتيا او روښانتيا لپاره جدي ونيسو، سره يو شو، خو ترې ونه‌ويرېږو، راپېرې‌نه‌وځو او اراده و اداره له لاسه ورنه‌کړو.

له دې ټولو پېښو سره عقلاني چلند بويه، چې موږ يې بايد زده‌کړو.

**ځو چې دا زمکه و اسمان وي**

**ځو چې ژوند په دې جهان وي**

**ځو چې پاتې يو افغان وي**

**تل به دا افغانستان وي**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ